خپره
۴ مخ

مسير
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د کب پنځمه | د ۲۰۲۱ د فبروري ۲۳مه | ۶۸۵یمه گڼه

# د بهرنيو ځواکونو د حضور احتمال؛

## طالبان: د بهرنيو ځواکونو د حضور دوام د منلو نه دی




۳

ولې باید د امنیتي ځواکونو پلانونه افشا شي؟
۲ مخ

د چین لرغوني کرنیزه کلیز
۲ مخ

چین له افغانستان سره د بشر ګډ برخلیک ټولنه جوړوي او ځواکخیزم فعال ساتي
۳ مخ

### دوکتور نور احمد میرازي



مرحوم استاد میرازي پوره نیمه پېړی د کابل پوهنتون په بیالوژي پوهنځي کې د استاد دنده تر سره کړه او یاد پوهنځي ته یې خدمتونه دې نه هېرېدو وړ دي.

### کرنې ریاست: په پروان کې د سویابینو یو زر او ۶۰۰ نندارېزې کروندې جوړې شوي



د پروان ولایت د کرنې او مالدارۍ ریاست وایي، چې د روان کال په ترځ کې د دغه ولایت د مرکز په ګډون د بګرام او جبل السراج په ولسوالیو کې د ۱۷ میلیونه او ۳۷۳ زره او ۱۳۹ افغانیو په لګښت د سویابینو یو زر او ۶۰۰ نندارېزې کروندې جوړې شوي دي.
کرنې ریاست وایي چې یادې نندارېزې کروندې په دغه ولایت کې د سویابینو د کرکیلې د پراختیا او دودولو په پار د «ANHDO» پروژې له خوا جوړې شوي دي.
دغه راز د غنمو د اصلاح شویو غنمو ته د لاسرسي په موخه د ۱۳۵ زره افغانیو په لګښت بزګرانو ته د غنمو ۲۱ نندارېزې کروندې او د زعفرانو پنځه نندارېزې کروندې هم جوړې شوي دي.
د پروان د کرنې ریاست چارواکي زیاتوي چې په دغه ولایت کې د کرکیلې د پراختیا په موخه نور پروګرامونه هم لري، چې د نوي کال له پیل سره به یې عملي چارې پیل شي.

### رحماني: د امنیتي ادارو مسوولین باید د وروستیو پېښو په اړه د وضاحت لپاره ولسي جرګې ته راشي

د ولسي جرګې رییس میر رحمان رحماني وایي چې د امنیتي ادارو مسوولین باید د وروستیو پېښو په اړه د وضاحت لپاره دغه جرګې ته ورشي.
رحماني د ولسي جرګې د پرونۍ غونډې په امتیازي ساعت کې د خبرو پر مهال په کابل کې د ورمې ورځې چاودنه خورا بوږنوونکې وبلله او پر حکومت یې غږ وکړ، چې ژر تر ژره د شته ګواښونو د ختمولو لپاره اغېزناک ګامونه اوچت کړي. نوموړي همدا راز د ولسي جرګې امنیتي او دفاعي کمېسیون ته دنده وسپارله چې د امنیتي ادارو مسوولین او د کورنیو چارو وزارت چارواکي دغه کمېسیون ته راوغواړي او د وروستیو نا امنیو په اړه وضاحت ترې وغواړي.
د یادونې ده چې ورمه ورځ د کابل ښار د څلورمې ناحیې اړوند سیمه کې یوه چاودنه وشوه، چې د وروستیو معلوماتو له مخې، څلور کسان یې وژلي او شپږ نور یې ټپیان کړي دي. د دې پېښې انځورونه او ویډیوګانې خورا بوږنوونکې وو چې په ټولنیزو رسنیو کې یې هم سخت غبرګونونه پارولي دي.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په کابل سربېره، د هېواد په نورو لویو ښارونو کې هم ناامنۍ او چاودنې په بې مخینې توګه زیاتې شوي دي. که څه هم د دغو چاودنو پړه څوک پر غاړه نه اخلي، خو حکومت بیا دغه ډول بریدونه د طالبانو کار بولي. طالبانو بیا په وار وار دغه تورونه رد کړي دي.

### له نږدې دوه میاشتې جنجال وروسته، ولسي جرګې د ۱۴۰۰ مالي کال بودجه تصویب کړه



۵ مخ

### دوستم: جنگ راهٔ حل نیست و طرف‌های درگیر باید صلح کنند



مارشال عبدالرشید دوستم در گفت‌وگوی ویژهٔ با طلوع‌نیوز تأکید کرده است که جنگ راهٔ حل نیست و طرف‌های درگیر باید به صلح رو بی‌آورند.
او افزوده است: «به جنگ یک‌جایی می‌رسیدیم، در ۴۲ سال می‌رسیدیم! قدرت را یک‌دفعه طالبان گرفت، قدرت را یک‌دفعه مجاهدین گرفت، قدرت را ما... این که نشد.»
او گفته‌های اخیر گلبدین حکمتیار، رهبر حزب اسلامی را دربارهٔ راه اندازی تظاهرات و محاصرهٔ ارگ از سوی هواداران این حزب نیز، «حرف‌های هوایی» می‌داند.
آقای حکمتیار گفته بود که اگر حکومت زندانیان این حزب را آزاد نکند، هوداران وی دست به تظاهرات خواهند زد و ارگ را محاصره خواهند کرد. مارشال عبدالرشید دوستم با اشاره به آنچه که بی‌سرنوشت ماندن مذاکرات صلح در دوحه گفته می‌شود، از طرف‌های درگیر می‌خواهد که از جنگ دست بکشند.
دوستم تأکید می‌ورزد که برای تأمین صلح در کشور، باید در بخش حکومت‌داری نیز کارهایی انجام شوند. او می‌افزاید: «انتخابی بودن والی‌ها، ولسوال‌ها؛ این‌جا حالا دو والی است، یک والی دولت دارد، یک والی هم طالب دارد. بگذارید این را، من (باشم) باز جنگ را شروع نمی‌کنم، می‌گذارم به رأی مردم.»
مارشال عبدالرشید دوستم می‌گوید که وی به علت نداشتن دفتر و دیگر امکانات، تاکنون به کابل نیامده‌است و نیز رئیس‌جمهور غنی به درخواست ملاقات وی به‌تنهایی، تاکنون پاسخ نداده‌است.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

## ولې باید د امنیتي ځواکونو پلانونه افشا شي؟

د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح ویلي، چې ترهګر اوس په سرکونو کې د ماینونو د ځای پر ځای کولو لپاره په ټولیزه توګه له یوې نوې بڼې کار اخلي. هغه زیاته کړې د تازه اسنادو له مخې، د پاکستان له لوري طالبانو ته یو ډول نوي ماشینونه رسېدلي چې ترهګرو تر ډېره هغه په سراچه موټرونو کې ځای پر ځای کړي دي. ښاغلی صالح وایي، دا ماشینونه له یوې تر دوو دقیقو پورې په سړک کې تر لس سانتي مترو پورې سوری کوي او په هغه کې د سړک رنګ ته ورته ماین په ډېره بېړه ځای پر ځای کوي. صالح ویلي، چې دوی پولیسو ته سپارښتنه کړې، چې له دې وروسته سراچه ډوله موټرونه په جدي توګه تر څارنې او څېړنې لاندې ونیسي.

حکومتي چارواکي په خلکو کې دومره بې باوره شوي، چې اوس یې په سختۍ په خبرو باور کوي؛ ځکه چې دوی بیا بیا خلکو ته دروغ ویلي او ورسره کړې ژمنې یې نه دي عملي کړي. د امرالله صالح وروستۍ خبرې د تامل وړ دي؛ ځکه چې کله چاودنه پوره موټر تخریبوي، نو د بم لپاره ایښودل شوی سوری څنګه جوړ پاتې شي چې بیا یې تصویرونه تر امرالله صالح پورې ورسېږي!؟ خو که دا خبره دقیقه هم وي، بیا هم ستونزه لري؛ ځکه چې ولې د دښمن پلان ټولو خلکو او خپله دښمن ته افشا شي. که دښمن پوه شي، چې پلان او تکتیک یې افشا شوی دی، نو نه یوازې دا تکتیک به نه کاروي، بلکې بله لاره چاره به وګوري. تر دې بده یې لا دا چې آن امرالله صالح دښمنان خبر کړل چې سراچه او نور ډاله لرونکي موټرونه پلټل کېږي. دا خبره په واضح ډول د بریدګرو خبرول دي چې نور دا تکتیک ونه کاروي او امنیتي ځواکونه به د دوی موټرونه ګوري. که رښتیا هدف دا وي چې دا بریدګر او د دوی ټوله شبکه ونیول شي، نو دا خبره باید پټه ساتل شوې وای او یوازې امنیتي او کشفي ارګانونه پرې خبر وای. اوس خو داسې ښکاري چې امرالله صالح نه غواړي دا کسان ونیول شي او یوازې هغوی خبروي چې امنیتي ځواکونو یې تکتیک پېژندلی او نور دې یې نه کاروي. دا د امنیتي ادارو د پلانونو افشا کول او دښمن خبرول دي. په دې سره دا شک پیدا کېږي چې رښتیا هم دا تکتیک شته او رښتیا هم حکومت غواړي دا کسان ونیسي، که یوازې یې پوهوي چې خپل تکتیک بدل کړي!؟

حکومتي چارواکي اوس د دې پر ځای چې د دغو پېښو مخه ونیسي، هڅه کوي چې خلک وویروي، یا غواړي خپل نظر څرګند کړي، څو خلکو ته یو څه ووایي. دوی اوس د مسوولینو پر ځای د سیاسي شنونکو رول لوبوي او خپله دنده نه ترسره کوي. حکومتي چارواکي باید د ځان ښودنې او د خلکو په سترګو کې د خاورو شیندلو پر ځای، هڅه وکړي چې د روانو چاودنو او وژنو مخه ونیسي. خلک له چارواکو نه غواړي چې ورته وایي دا بریدونه څوک او څه ډول کوي، بلکې خلک غواړي چې د دغو بریدونو مخه ونیول شي. اوس خو د امرالله صالح خبرې یوازې د دې لپاره دي، چې دښمن د امنیتي ځواکونو له پلانونو او طرحو خبر کړي او هغوی پوه کړي چې سراچې او نور موټر پسې پلټل کېږي. له پرته دا خبرې هېڅ مانا نه لري.

# د چین لرغونې کرنیزه کلیز

نقیب الله مل

په تېره لیکنه کې مې د چین د دودیز نوي کال په اړه خبرې او معلومات وړاندې کړي وو، کوم چې تر ډېره د یوې ځانګړې دودیزې کلیز له حساب سره تړلی دی. راځئ چې نن د چینایانو دا ځانګړې کلیز لا ښه وپېژنو، په دې لیکنه کې مې د دې عجیبې لرغونې کرنیز کلیز په اړه ځینې معلومات او د خلکو عجیبې انګیرنې راټولې کړې دي.

د چینایانو کرنیزه کلیز د هغه څه په پرتله لا زیاته عجیبه او جالبه ده، څومره یې چې په اړه فکر کیږي، دا کلیز د بشپړوالي له بېلابېلو پړاوونو تېره شوې ده او په بېلابېلو دورو کې ځینې بدلونونه او اصلاحات پکې راوستل شوي دي. په سلګونو کلونو او پېړیو کې په پراخه کچه تر استفادې او کارونې لاندې پاتې شوې ده، هغه چې اوس هم د چین د مهمو دودیزو ورځو په ټاکنه او رخصتیو کې کارول کیږي.

### د چین د دودیزې کلیز تاریخچه

اوس په نړۍ کې د خلکو ترمنځ نهه ډول بېلابېلې کلیز شته او کارول کیږي، په دې لړ کې یوه د چین د خلکو دودیزه کلیز ده او د مشهورو جنتریو له ډلې یادیږي، کومه چې د لرغونو او اوږدو زمانو راهیسې په چیني ټولنه کې مروجه پاتې شوې ده، د بېلابېلو امپراطوریو د سلسلو په دورو کې ځینې اصلاحات او بدلونونه پکې راوستل شوي دي او یوه بشپړه کلیز ګرځول شوې ده. اوسنۍ دودیزه تر استفادې لاندې کلیز له میلاد ۱۰۴ کلونه وړاندې د هان په سلسله کې د ((وو)) امپراطور په وخت کې جوړه شوې ده، چې د تای چو په نوم باندې یادېده او تر ننه استفادې ترې کېږي.

### په چیني دودیزه کلیز کې حیوانات او د کالونو نومونه

چیني دودیزه کلیز د لمریز نظام د څلور ویشتو برجونو پر اساس جوړه شوې او یوه لمریزه او سپوږمیزه ګډه جنتري ده، یانې همزمان یې په جوړښت کې د لمریزې او سپوږمیزې جنتریو ګډې ځانګړتیاوې شاملې دي. دې کلیز ته کرنیز کلیز هم وایي، څرنګه چې له پخوا زمانو راهیسې بزګران خپلې کرنیزې چارې د همدې کلیز له مخې تر سره کوي، په دې کلیز کې د هرې میاشتې نوي کېدل او پیل د نوي هلال راختلو سره سم پیلیږي. د کال پیل او نوي کېدل د سپوږمۍ د موقعیت له مخې پکې تعینیږي، یانې کله چې سپوږمۍ د ژمي په منځ کې د بدلون او انقلاب په موده کې چې د کال تر ټولو لنډه ورځ او اوږده شپه یانې د یلدا شپه وي، دا د ژمي په موسم کې د لمر وروستۍ دوره او په سپوږمیزه کلنۍ جنتري کې د وروستۍ دورې په توګه هم یادیږي او معمولاً د کال په دې برخه کې د سړې هوا، واورو، بارانونو او اورښتونو له امله د خلکو په ژوند کې بېلابېل تاثیرات پر ځای پرېږدي.

په همدې لړ کې که کله هم غواړې د چین د خلکو، دودونو او رواجونو ګرمه څپه د ښکلاګانو، جشنونو، فعالیتونو عجیبې صحنې، له جم و جوشه ډکې مودې لیدلو ته مو زړه کیږي، نو تر ټولو ښه وخت یې د چین د دودیز نوي کال او د پسرلني اختر شپې او ورځې دي، په دې حساب دا اختر د ټول کال په موده په چین او هم په نړۍ کې یو له ډېرو په زړه پورې، جالبو اخترونو او هم له مشهورو رخصتیو شمېرل کیږي. د نوي کال په ټاکنه کې د کرنیزې کلیز رول ته خاص ارزښت ورکول کیږي.

د چین په دودویزه کلیز کې د کالونو لپاره د ۱۲ حیواناتو د نومونو ټاکنه، په دې اړه د خلکو انګیرنې، باورونه هغه جالب او بل په زړه پورېوالی دی چې هر ۱۲ کلونه وروسته یې یو دوران بشپړیږي او دوباره تکراریږي.

په دې کې د لرغونو چینایانو د عجیبو انګیرنو ونډه لا هم تر اوسه پر ځای ده او مهمه پاتې شوې ده، د هر نفر د شخصیتي ځانګړتیاوو معلوملو او پېژندلو کې یې اغېز مهم او ورسره تړلی بولي، که د هر چا د زیږېدنې کال له هر یو حیوان سره برابر وي، د هماغه اړوند حیوان مشخصات او ځانګړتیاوې به یې په شخصیت کې راڅرګندېږي.

دا انګیرنې په حقیقت کې یوه ښه سرګرمي هم ده، په دې توګه هر څوک کولی شي خپلې شخصیتي ځانګړتیاوې پکې ومومي او وګوري، چې څومره یې له شخصیتي ځانګړتیاوو سره مطابقت لري، ځان پکې تللی او کتلی شي. د همدې لپاره مې لومړی دلته د دغو ۱۲ حیواناتو د نومونو یادونه کړې او بیا ورپسې د هر یو حیوان عمده او مهمې ځانګړتیاوې قطار کړې دي. مهم خصوصیات او مفاهیم مې یې راټول کړي دي او په دې ترتیب سره په لاندې ډول وړاندې کیږي. په اسانه کولی شو د چین په دې دودیزه کرنیزه کلیز کې خپل د زیږېدنې کال له مخې اړوند حیوان وموموو او د خپل ځان په اړه ځانګړتیاوې په ګوته او نښه کړو:

۱- د موږک کال؛ دا د چین په کرنیزه کلیز کې د لومړي حیوان کال دی، که موږ د موږک له کاله پیل وکړو او په دې فورمول کې یې واچوو، هغه چې هر ۱۲ کلونه وروسته تکراریږي، نو په اسانه توګه کولی شو چې د دې حیوان نور کالونه هم پیدا کړو. د بېلګې په ډول، ۱۹۶۰م کال د موږک کال دی، هر ۱۲کالونه وروسته تکراریږي، که د ۱۲عدد ورسره جمعه کړو، نو په دې توګه د موږک نور کالونه موندلی شو، ۱۹۶۰، ۱۹۷۲، ۱۹۸۴، ۱۹۹۶، ۲۰۰۸، ۲۰۲۰ دي او د موږک بل کال به په ۲۰۳۲ کې راشي.

د موږک په کلونو کې د زیږېدونکو په اړه د عمده او مهمو شخصیتي ځانګړتیاوو په اړه انګیرنې دا دي: مینه ناک، هوښیار، با اخلاقه، ځیرک، چالاکه، خوږ ژبی او وفاداره؛ خو څرنګه چې موږک یو وړوکی حیوان دی، زور، ځواک او جرئت نه لري، نو د دې کال زیږېدونکي تر ډېره د مدیریت او رهبرۍ لپاره وړ او مناسب نه دي.

۲- د غویي کال؛ په کرنیزه کلیز کې دویم کال د غویي دی، د غویي نور کالونه، ۱۹۶۱، ۱۹۷۳، ۱۹۸۵، ۱۹۹۷، ۲۰۰۹، ۲۰۲۱ دي. سږنی کال د غویي له کال سره برابر دی، تیر کال د موږک کال و او د غویي بل کال به په ۲۰۳۳کې را شي.

د غویي په کلونو کې د زیږېدونکو په اړه د عمده او مهمو شخصیتي ځانګړتیاوو په اړه انګیرنې دا دي: کلک، زیارکښه، جدي، صابر، ځواکمن، جوړوونکی، کومک کوونکی، خدمت کوونکی او مسوولیت منونکی. د دې کال زیږېدونکي اکثره په صنعتي چارو، د موټر جوړولو او د ای ټي په برخو کې د ښو وړتیاوو او بوختیاوو لرونکي دي.

۳- د پړانګ کال؛ د چین په کرنیزه کلیز کې دربیم کال د پړانګ دی، د پړانګ نور کالونه، ۱۹۶۲، ۱۹۷۴، ۱۹۸۶، ۱۹۹۸، ۲۰۱۰ او د پړانګ بل راتلونکی کال به په ۲۰۲۲ کې راشي.

د پړانګ په کلونو کې د زیږېدونکو په اړه د عمده او مهمو شخصیتي ځانګړتیاوو په اړه انګیرنې دا دي: هڅاند، زړور، ځانخوښی، ځیرک، احساساتي او جدي. د دې کال زیږېدونکي ډېر لږ په نورو پسې ځي او زیاتره په مدیریتي او د کنټرول په چارو کې له ښو وړتیاوو څخه برخمن دي.

۴- د سوی کال؛ د چین په کرنیزه کلیز کې څلورم کال د سوی دی، د سوی نور کالونه، ۱۹۶۳، ۱۹۷۵، ۱۹۸۷، ۱۹۹۹، ۲۰۱۱ او د سوی بل کال به په ۲۰۲۳ کې راشي.

د سوی په کلونو کې د زیږېدونکو په اړه د عمده او مهمو شخصیتي ځانګړتیاوو په اړه انګیرنې دا دي: مینه ناک، نېکمرغه، مهربانه، احتیاط کاره، بختور او حساس. د دې کال په زیږېدونکو باندې انتقاد کول بد لګیږي او له انتقاد کولو سخت ناراحته کیږي.

۵- د ښامار کال؛ د چین په کرنیزه کلیز کې پنځم کال د ښامار دی، د ښامار نور کلونه، ۱۹۶۴، ۱۹۷۶، ۱۹۸۸، ۲۰۰۰، ۲۰۱۲ او د ښامار بل کال به په ۲۰۲۴ کې راشي.

د ښامار په کلونو کې د زیږېدونکو په اړه د عمده او مهمو شخصیتي ځانګړتیاوو په اړه انګیرنې دا دي: هوښیار، شتمن، ځواکمن، بالنرژي، نېکمرغه او جذاب. د دې کال زیږېدونکي په بحث او خبرو کې ژر غوصه او عصبي کیږي.

۶- د مار کال؛ د چین په کرنیزه کلیز کې شپږم کال د مار دی، د مار نور کالونه، ۱۹۶۵، ۱۹۷۷، ۱۹۸۹، ۲۰۰۱، ۲۰۱۳ او د مار بل کال به په ۲۰۲۵ کې راشي.

د مار په کلونو کې د زیږېدونکو په اړه د عمده او مهمو شخصیتي ځانګړتیاوو په اړه انګیرنې دا دي: هوښیار، سخي، خوله‌ور، شنونکی او کینه کښ. د دې کال زیږېدونکي تر ډېره د ښو او نرمو اخلاقو لرونکي دي، خو که چیرې یې په شخصي حدودو کې مداخله وشي، ژر یې د خپګان او د تشویش سبب کیږي.

۷- د اس کال؛ د چین په کرنیزه کلیز کې اووم کال د اس دی، د اس نور کالونه، ۱۹۶۶، ۱۹۷۸، ۱۹۹۵، ۲۰۰۲، ۲۰۱۴ او د اس بل کال به په ۲۰۲۶ کې راشي.

د اس په کلونو کې د زیږېدونکو په اړه د عمده او مهمو شخصیتي ځانګړتیاوو په اړه انګیرنې دا دي: چابک، مسافر، جذاب، مینه ناک، وفاداره او بې صبره. د دې کال زیږېدونکي ځانخوښي دي او د نورو د مشکلاتو او ستونزو په اړه بې پروا دي.

۸- د پسه کال؛ د چین په کرنیزه کلیز کې اتم کال د پسه دی، د پسه نور کالونه، ۱۹۶۷، ۱۹۷۹، ۱۹۹۱، ۲۰۰۳، ۲۰۱۵ او د پسه بل کال به په ۲۰۲۷ کې راشي.

د پسه په کلونو کې د زیږېدونکو په اړه د عمده او مهمو شخصیتي ځانګړتیاوو په اړه انګیرنې دا دي: نوښتګر، شرمناک، مؤدب، زړه سواندی، خلاق، اړمن او اندېښمن. د دې کال زیږېدونکي تر ډېره بدبینه او شکاکي وي، غواړي خپل وخت ګوښه یوازې په خپل ځای او حویلۍ کې تیر کړي.

۹- د شادي کال؛ د چین په کرنیزه کلیز کې نهم کال د شادي دی، د شادي نور کلونه، ۱۹۶۸، ۱۹۸۰، ۱۹۹۲، ۲۰۰۴، ۲۰۱۶ او د شادي بل کال به په ۲۰۲۸ کې راشي.

د شادي په کلونو کې د زیږېدونکو په اړه د عمده او مهمو شخصیتي ځانګړتیاوو په اړه انګیرنې دا دي: نوښتګر، چالاکه، تېز، بالنرژي او بریالی. د دې کال زیږېدونکي تر ډېره فرصت طلبه، مطلب اشنا او خپله خوښي د نورو په ځورولو او په عذابولو کې ګوري.

۱۰- د چرګ کال؛ د چین په کرنیزه کلیز کې لسم کال د چرګ دی، د چرګ نور کالونه، ۱۹۶۹، ۱۹۸۱، ۱۹۹۳، ۲۰۰۵، ۲۰۱۷ او د چرګ بل کال به په ۲۰۲۹.

د چرګ په کلونو کې د زیږېدونکو په اړه د عمده او مهمو شخصیتي ځانګړتیاوو په اړه انګیرنې دا دي: راستمن، بیداره، پاک، مغروره، زیارکښ او هڅاند. د دې کال زیږېدونکي تر ډېره په دې هڅه او لټه کې وي چې د نورو پاملرنه ځان ته جلب کړي.

۱۱- د سپي کال؛ د چین په کرنیزه کلیز کې یوولسم کال د سپي دی، د سپي نور کالونه، ۱۹۷۰، ۱۹۸۲، ۱۹۹۴، ۲۰۰۶، ۲۰۱۸ او د سپي بل کال به په ۲۰۳۰کې راشي.

د سپي په کلونو کې د زیږېدونکو په اړه د عمده او مهمو شخصیتي ځانګړتیاوو په اړه انګیرنې دا دي: وفاداره، راستمن، ځیرک او حساس. د دې کال زیږېدونکي تر ډېره مشوش او کشمکشونو کې لالهانده وي. د خپلې شاوخوا په اړه منفي لید او نظر لري، په غیر قانوني او ناروا لارو د ګټې وټې تر لاسه کول یې مطلب او خوښه وي.

۱۲- د خوګ کال؛ دا د چین په کرنیزه کلیز کې وروستی او دوولسم کال دی، د خوګ نور کلونه، ۱۹۷۱، ۱۹۸۳، ۱۹۹۵، ۲۰۰۷، ۲۰۱۹ او د خوګ بل کال به د ۲۰۳۱کې راشي.

د خوګ په کلونو کې د زیږېدونکو په اړه د عمده او مهمو شخصیتي ځانګړتیاوو په اړه انګیرنې دا دي: هوښیار، امانت داره، باکماله او شریف. د دې کال زیږېدونکي تر ډېره خوش باوره دي، په اسانه تیر ایستل کیدلی او دوکه کېدلی شي.

### پنځه‌ګوني عناصر

د چیني دودیزې کلیز د جوړښت د انګیرنو په لړ کې دا هم ویل کیږي چې په هر کال کې د دغو پنځو مهمو اساسي عناصرو شتوالی حتمي دی: لرګی، اور، خاوره، فلز او اوبه کوم چې دا د هر یو کال په څرخ او د یو دوران په بشپړوالي کې اساسي رول لري.

رخصتي- لا تر اوسه هم په چین کې د مهمو دودیزو ورځو د رخصتیو ټاکنه د همدې کرنیز کلیز پر مټ کیږي، دغه رخصتۍ عبارت دي له: چیني نوی کال (چیني نوروز)، د ډیوې اختر، د چېنګ مېن ورځ یا هدیرو ته تلل، د ښامار سر لرونکو کښتیو اختر چې معمولاً د چیني جنترۍ د پنځمې میاشتې په پنځمه ورځ وي، د میینانو ورځ (چیني ولنټاین) دا ورځ د اوومې میاشتې په اوومه ورځ وي، د منځنۍ منۍ اختر (د سپوږمۍ اختر) چې د اتمې میاشتې په پنځلسمه ورځ وي، د لوړ عمر لرونکو د پالنې او درناوي ورځ (چونګ یانګ) چې د نهمې میاشتې په نهمه نېټه وي او ځینې نورې مهمې ځانګړې ورځې دي.

### د چین دودیزې کلیز جالب ټکي

د چین دودیز نوی کال معمولاً د جنوري له ۲۱م څخه د فبروري د ۲۱م تر منځ راځي، په دې کلیز کې ۲۴ برجونه او پکې د لمر او سپوږمۍ دوران د اساسي او محوري رول لرونکي دي. دا دودیزه جنتري د ۱۲ سپوږمیزو میاشتو لرونکې ده، د هرې میاشتې نوي کېدنه یې د هلال په راختلو او نوي کېدلو سره کیږي.

د کلونو لپاره دا ۱۲ ټاکل شوي حیوانات چې کله له پورتنیو یادو شوو پنځګونو عناصرو سره یو ځای او ملګري شي، ورسره د چیني کلیز یوه دوره بشپړیږي.

د دې کال هره میاشت د ۳۰ یا د ۲۹ ورځو لرونکې ده، هر درې کلونه وروسته پکې د جنوري یا فبروري په میاشت کې یوه میاشت اضافه او علاوه کیږي، څو د چینایي کلیز حساب د میلادي کلیز له حساب سره برابر وساتل شي.

# چین له افغانستان سره د بشر ګډ برخلیک ټولنه جوړوي او ځواړخیزم فعال ساتي



**لیکنه: وانګ یو**
په افغانستان کې د چین لوی سفیر

نړۍ اوسمهال له لویې وبا او سترو بدلونونو سره مخ ده. ټول بشر د سختې ساري ناروغۍ تر سیوري لاندې راغلی او د نړۍ اقتصاد هم له دویم نړیوال جنګ وروسته له سختو کړکېچونو سره مخ او کمزوری شوی دی. یو اړخیزم، پروټېکشنیزم او تسلط شدت موندلی او د حکومتولۍ، باور، پرمختګ او سولې په برخو کې کسرونه مخ په ډېرېدو دي. په نړۍ کې څه ناسم روان دي او موږ څه کولی شو؟ دا یوه داسې پوښتنه ده، چې نړیوال یې هم په اړه فکر کوي.

د چین د دولت رییس شي جین پینګ د جنورۍ په ۲۵مه د ویډیو کنفرانس له لارې د نړیوال اقتصادي فورم «داووس اجنډا» په ډیالوګ کې برخه واخیسته او «د څواړخیزم مشال دې د انسانیت د پرمختګ لار روښانه کړي» په عنوان یې یوه وینا وکړه. نوموړي د اوسني عصر پر وړاندې د څلورو لویو مسئلو په تړاو هر اړخیزې خبرې وکړې، د نړۍ د پرمختګ د کمزروتیا کلیدي ټکي یې په ګوته کړل، په متناسب ډول یې د څو اړخیزم اصل ماهیت تشریح کړ او په نویو حالاتو کې یې د څو اړخیزم د ساتلو او عملي کولو لپاره لار روښانه کړه. نوموړي د څو اړخیزم د ساتلو او له نورو هېوادونو سره د ګډ کار او همکارۍ لپاره د چین هوډ څرګند کړ. نوموړي هغو لویو پوښتنو ته؛ لکه د تاریخ په څلورلار کې څنګه لیدلوری کوو؟ ځوابونه ورکړل او د بشر د پرمختګ لپاره یې د چین پلان او ځواب برابر کړی، چې د برخه‌والو ښې ستاینې یې تر لاسه کړې دي. د «کلیدي کال په پام کې نیسو او د ټولو خواوو باور بیا جوړوو» تر سرلیک لاندې «څو اړخیزم» په دې غونډه کې ډېر لیدل شوی دی. د څو اړخیزم ساتلو او عملي کولو او د بشر د ګډ برخلیک ټولنې د ابادولو په اړه د رییس شي جین پینګ غوښتنو د نړیوالې ټولنې ډېرې ستاینې تر لاسه کړې دي.

د څو اړخیزم سیاست ساتل او عملي کول د چین او افغانستان تر منځ د همکارۍ اتفاق او سمت بدل شوی او ورځ تر بلې د غوړېدو په حال کې دی. چین پر نړیوال عدالت ټینګار کوي او د افغانستان د مسئلې د حل په موخه له نړیوالې ټولنې سره یو ځای نه ستومانه کېدونکې هلې ځلې کوي، څو په دغه هېواد کې سوله او ثبات راشي. چین د افغانستان د سوله‌ییزې بیارغونې په درشل کې د یوناما د چارو ملاتړ کوي، د افغانستان مسئلې په تړاو د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ او امنیت شورا د ځینو پرېکړو تصویب ته یې لار هواره کړه، د افغانستان مسئلې په اړه یې د امنیت شورا په بېلابېلو بحثونو کې فعاله برخه اخیستې او څو بېلابېلو میکانېزمونو کې یې ګډون کړی دی. چین د «افغانانو په ملکیت او مشرۍ» د چارو ملاتړ او درناوی کوي. ولسمشر محمد اشرف غني تېر کال د ملګرو ملتونو د ۷۵یمې عمومي اسمبلۍ په مباحثوي غونډه کې د څو اړخیزم پر اهمیت ټینګار وکړ او غوښتنه یې وکړه، چې ملګري ملتونه باید د افغانستان پر وړاندې د شته مختلفو ستونزو په حل کې مهم رول ولوبوي.

اوسمهال د افغانستان د سولې او پخلاینې پروسه یوه کلیدي پړاو ته رسېدلې ده. چین او افغانستان څنګه کولی شي، چې له څو اړخیزم ښه ګټه پورته کړي او له دې لارې څنګه کولی شي، چې د افغانستان مسئله ژر حل کړي؟ زه فکر کوم، چې دلته د رییس شي جین پینګ وینا ځانګړې او مهم اهمیت لري.

**لومړی- موږ باید ورخلاصون او ټولشمولیت وساتو**

رییس شي جین پینګ په خپلو خبرو کې څو ځله پر دې تاکید کړی، چې موږ باید د بشر د ګډ برخلیک مفکوره تعقیب کړو، د سولې، پرمختګ، برابرۍ، عدالت، ډیموکراسۍ او ازادۍ پر ګډ ارزښت باید ټینګار وکړو او تر وسې پورې باید د همکاریو نظام، مفکوره، ورخلاصون او تګلارې او شاملتیا پیاوړې کړو. چین د افغانستان د باوري ګاونډي په توګه د زړه له کومې غواړي، چې په افغانستان کې سوله، ثبات او بیارغونه رامنځته شي. چین له اوږدې مودې راهیسې د یو کمربند او یوې لارې په چوکاټ کې له افغانستان سره همکارۍ پیاوړې کړې او په وروستیو کلونو کې د افغانستان دریېیم لوی سوداګریز همکار پاتې شوی دی. چین د چین - افغانستان - پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو د درې اړخیز ډیالوګ په ګډون، د سیمه‌ییزو همکاریو د ډګرونو له لارې کار اخلي، څو د افغانستان ځانګړې جغرافیایي امتیاز په ګټوره توګه ولوبوي، خپلمنځي متقابل پیوستون او تګ راتګ پیاوړی کړي او د افغانستان اقتصادي او ټولنیز پرمختګ او د خلکو ژوند ته وده ورکړي. چین به د روغتیا نړیوال سازمان په غوښتنه، د کووېډ-۱۹ ضد لس میلیونه واکسینونه برابر کړي او په عمده توګه به د افغانستان په ګډون، د مخ پر ودې هېوادونو عاجلې اړتیاوې پوره کړي. چین په لوړې سویې ورخلاصون پرمخ بیایي او د کورني دوران پر محور، د کورنیو او بهرنیو دواړو دورانونو نوي انکشافي حالات جوړوي. چین غواړي له افغانستان سره یو ځای په لوړ کیفیت «یو کمربند او یوه لار» جوړه کړي او د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ کچه لوړه او د افغانستان اقتصاد او د خلکو ژوند وهڅوي.

**دویم- موږ باید پر مشورو او همکاریو ټینګار وکړو**

رییس شي جین پینګ په خپلو خبرو کې څو ځلې دې ته اشاره کړې، چې موږ باید د سړې جګړې ذهنیت او د صفر سام (zero sum) زاړه مفهومونه پرېږدو، متقابل درناوي او متقابل تفاهم ته باید غاړه کېږدو، د ستراتېژیکو اړیکو له لارې سیاسي متقابل اعتماد ته باید وده ورکړو او د متقابلو او ګډو ګټو همکارۍ باید تعقیب کړو. چین د افغانستان د سولې او پخلاینې پروسې په برخه کې د دغه هېواد له ټولو ګوندونو او ډلو څخه غوښتنه کړې، چې د خپل هېواد ملي ګټې په نظر کې وساتي او د بین الافغاني خبرو اترو له لارې دې داسې ټولشموله سیاسي چوکاټ رامنځته کړي، چې د افغانستان ټول ګوندونه، ملیتونه او مذهبي ډلې پکې ځان وویني. چین به د افغانستان د مخلص ملګري په توګه د تل په شان د دغه هېواد د سولې او پخلاینې پروسې ملاتړ کوونکی، منځګړی او تسهیل کوونکی پاتې شي او له نړیوالې ټولنې او سیمه‌ییزو هېوادونو څخه هم غواړي، چې مساوات او عدالت تعقیب او په ګډه د افغانستان له سوله‌ییزې بیارغونې څخه ملاتړ وکړي او اړوند څو اړخیز میکانېزمونه باید د دې لپاره مثبت رول ولوبوي.

**درېیم- له وخت سره سم باید پرمختګ وکړو**

رییس شي جین پینګ په خپلو خبرو کې دې ته اشاره کړې، چې نړۍ د ستر بدلون په حال کې ده، چې نه یوازې د لوی پرمختګ؛ بلکې د لویو اصلاحاتو دوره ده. موږ باید راتلونکي ته په کتو، د ۲۱مې پېړۍ څو اړخیزم پر سمه لار بوځو او نوښت وکړو، د نړیوالو ننګونو پر وړاندې باید مقابله وکړو او د پراخو مشورو او موافقو پر اساس باید د نړیوالې حکومتولۍ سیستم اصلاح او بشپړ کړو. ترهګري د بشریت ګډ دښمن دی، چین او افغانستان د تروریزم قربانیان او په لومړۍ کرښه کې ولاړ دي. د «ختیځ ترکستان غورځنګ» په ګډون نړیوالې ترهګرې ډلې د دواړو هېوادونو پر وړاندې ګډ ګواښ دی. چین د تروریزم له هر ډول سره مخالفت کوي او له نړیوالې ټولنې غوښتنه کوي، چې د تروریزم پر ضد ببرنۍ او اصلي مسئلې باید ټولې حل او نړیوالې همکارۍ دې پیاوړې کړي. چین په دې اند دی، چې نړیواله ټولنه باید د افغانستان د امنیتي ظرفیتونو د لوړولو لپاره کلکه همغږي ولري او په دوامداره توګه باید د تروریزم پر وړاندې د افغان ځواکونو وړتیاوې لوړې کړي. چین له بهرنیو ځواکونو څخه غواړي، چې له افغانستان څخه په منظمه او مسوولانه ډول ووځي، د تروریستي ډلو د بیا پورته کېدو مخه باید ونیسي او په افغانستان کې باید وضعیت ته په کتو پرېکړې وکړي. چین په ټینګ هوډ دا غوښتنه کوي، چې افغانستان باید د لوبو ډګر ونه ګرځي او په دغه هېواد کې د نورو هېوادونو پر ضد د «نوې سړې جګړې» او پراکسي جګړې سره ټینګ مخالفت کوي. چین چمتو دی، چې د افغانستان په ګډون له نړیوالې ټولنې سره د ترهګرۍ پر ضد همکارۍ ژورې کړي او په ګډه په افغانستان او سیمه کې سوله او ثبات ټینګ کړي.

«چین مکلف دی، هغه څه ښه تر سره کړي چې د ټول بشریت لپاره ګټور وي.» د رییس شي جین پینګ دغو اغېزناکو خبرو نړۍ ته د چین جدي ژمنې او د لوی هېواد مسوولیت ښکاره کړی دی. چین به دې تل په څېر، په ټینګ عزم او ارادې څو اړخیزم وساتي او عملي به یې کړي. د ګډو ګټو پر اساس به د نړۍ له مختلفو هېوادونو سره یو ځای پرمختګ وکړي، د بدلون په حال کې به نړۍ ته باور ورکړي او د تاریخ په کلیدي نقطه کې به د افغانستان لپاره لازیات ابادوونکی رول ولوبوي.

# د بهرنیو ځواکونو د حضور احتمال؛

## طالبان: د بهرنیو ځواکونو د حضور دوام د منلو نه دی

سره له دې چې په هېواد کې د بهرنیو ځواکونو د پاتې کېدو ګنګوسې تودې شوې دي، خو طالبان بیا وایي چې د بهرنیو ځواکونو د حضور دوام ورته د منلو نه دی.

د وسله والو طالبانو یوه ویاند په تازه مرکه کې ویلي، چې بهرني ځواکونه باید له هوکړې سره سم په مې میاشت کې له افغانستان وتلي وي او که دا کار و نه کړي نو ښایي د طالبانو له بریدونو سره مخ شي. بلخوا افغان چارواکي بیا په دې باور دي چې بهرني ځواکونه دې دلته حضور ولري، ځکه طالبان پر ژمنو عمل نه کوي.

د دوحې له هوکړې سره سم امریکا اړ ده چې خپل سرتېري تر مې میاشتې پورې له افغانستان وباسي، خو اوس د بایډن حکومت بیا په دې باور دی چې د سولې پر هوکړه دې بیا کتنه وشي. د امریکا مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ له طالبانو سره ژمنه کړې وه، چې خپل سرتېري به د روان ۲۰۲۱ز کال تر مې پورې له افغانستان وباسي، خو داسې ښکاري چې بایډن به پر دې هوکړه توافق و نه کړي. دا هوکړه یو اړخیزه نه وه، د سرتېرو د ایستلو په بدل کې طالبانو ژمنه کړې وه، چې د القاعده په ګډون به له ټولو بهرنیو ترهګرو ډلو سره اړیکې پرې کوي، جګړې به کموي، له افغان حکومت سره به مذاکرات کوي او دایمي اوربند ته به لاره هواروي.

خو اوس د امریکا په ګډون افغان حکومت هم په دې باور دی چې طالبانو په خپلو ژمنو عمل نه دی کړی او تاوتریخوالی یې نه دی کم کړی. ګڼو امریکایي چارواکو په وروستیو کې ویلي، چې د دوحې پر هوکړه به بیا کتنه کېږي او دا به ارزول کېږي، چې طالبان څومره هوکړې ته ژمن پاتې شوي دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر تازه د ملي مصالحې عالي شورا له رییس ډاکټر عبدالله عبدالله سره د خبرو پر مهال ویلي چې د سولې پر هوکړه بیا کتنه کوي او د افغانستان د وضعیت تر ارزولو وروسته به د خپلو سرتېرو د حضور او وتلو په اړه پرېکړه کوي.

د ناټو د دفاع وزیران هم په غونډه کې پر دې سره سلا نه شول چې په افغانستان کې د ځواکونو حضور ته ادامه ورکړي کنه، له همدې امله دغه پرېکړه بلې مرحلې ته وځنډول شوه. اوس طالبانو په دې وروستیو تحولاتو غبرګون ښودلی دی. د وسله والو طالبانو یوه ویاند ذبیح الله مجاهد له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې تر مې میاشتې وروسته د امریکایي او بهرنیو ځواکونو حضور ورته د منلو نه دی.

د مجاهد په خبره، امریکایي ځواکونو ته په کار ده چې له هوکړې سره سم پر ټاکلې نېټه له افغانستان ووځي او په دې توګه دې دلته د جګړو دوام ته زمینه نه برابروي. مجاهد د امریکایي ځواکونو د وتلو د نېټې له احتمالي تمدید سره مخالفت کړی او په خبره یې، په هېڅ صورت به د ځواکونو د حضور له دوام سره موافقه ونه کړي. د ده په خبره: «په هېڅ صورت د بهرنیو سرتېرو د وتلو د ضرب الاجل له تمدید سره موافقه نه کوو».



نوموړي ویلي که ناټو او امریکا په رښتینې توګه د اوسني بهران د پای ته رسولو ملاتړي وي، نو ښه لاره یې همدا ده چې خپل ځواکونه له افغانستان وباسي. د ده په خبره: «که ناټو، امریکا او نور اړخونه د بحران د پای ته رسولو غوښتونکي وي، نو پر هغه هوکړه دې عمل وکړي چې له موږ سره یې لاسلیک کړې ده».

بلخوا د امریکا په کانګریس کې هم د جمهوري غوښتونکو مشر ویلي، چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د حضور پر دوام ټینګار کوي. مایک مک کول وایي، که امریکایي ځواکونه له افغانستان وځي، نو د دې احتمال شته چې طالبان د داعش په څېر چې په عراق کې راپورته شول، دوی هم په افغانستان کې راپورته شي او دغه هېواد د کورنیو جګړو پر ډګر بدل شي. افغان حکومت هم د دې ملاتړی دی چې بهرني ځواکونه په دقت د خپل حضور او وتلو په اړه پرېکړه وکړي.

# ګروسي: له ایران سره د اټومي څارنې د پرېکون د مخنیوي په تړاو هوکړې ته رسېدلي یو

د ملګرو ملتونو د اټومي څارنې د ادارې مشر رافایل ګروسي، چې له دې ادارې سره د ایران د همکارۍ د پرېکون د ګواښ په خاطر تهران ته تللی و، وایي چې له ایراني چارواکو سره په دې تړاو یوې هوکړې ته رسېدلی دی.

ګروسي زیاته کړې، له ایراني چارواکو سره په خبرو کې دواړه لوري داسې موافقې ته ورسېدل، چې له مخې یې ایران له دې ادارې سره همکاري محدودوي، خو کمې څارنې ته‌یې اجازه ورکوي.

نوموړي دغه څرګندونې وروسته له هغې وکړې، چې ایران ته په سفر کې یې د ایران د اټومي انرژۍ د ادارې د رییس علي اکبر صالحي په ګډون د دغه هېواد له یو شمېر جګپوړو چارواکو سره وکتل. تهران خبرداری ورکړی و چې که امریکا پر دغه هېواد لګول شوي بندیزونه لرې نه کړي، روانه اونۍ به خپل اټومي تاسیسات د ملګرو ملتونو د څارونکو پر مخ وتړي.

ایران له خپله اړخه په شوي تړون کې د شفافیت په هدف ژمنه کړې، چې له خپلو اټومي تاسیساتو د ملګرو ملتونو د څارونکو ناڅاپي کتنې ته اجازه ورکوي.

د اټومي انرژۍ د نړیوالې ادارې مشر رافایل ګروسي ویلي، تهران به هغه قانون عملي کړي، چې د دغه هېواد پارلمان دوې میاشتې مخکې تصویب کړی او له مخې یې د اټومي خوندیتوب هغه ضمیمه شوی پروتوکول ځنډوي، چې له مخې یې نړیوالو اټومي څارونکو ته د ایران له اټومي تاسیساتو په لنډه موده او نابېره توګه د کتنې اجازه ورکوله.

خو ګروسي دا هم ویلي، چې ده له ایراني چارواکو سره په دې هم هوکړه کړې چې د ملګرو ملتونو د اټومي څارنې اداره به تر درې میاشتو پورې د ایران د اټومي فعالیتونو د لازمي څارنې او تایید چارو ته دوام ورکوي.

ګروسي چې له ایرانه تر ستنېدو وروسته‌یې څرګندونې کولې، ویلي، موږ پر هغه څه چې دوام کولای شي، موافقه وکړه او زیاته‌یې کړه چې اوسمهال مهمه دا وه چې فاصله رالنډه کړو او رامنځته شوی وضعیت وژغورو.


هغه زیاته کړې، څارنه به کمه وي، خو دا باید ومنو چې له دې سره بیا هم د اړتیا تر حده پورې د څارنې او تایید چارو ته اجازه ورکړل شوې ده. نوموړي دا یو موقتي تخنیکي تفاهم یاد کړ. تهران ته د ملګرو ملتونو د اټومي انرژۍ د ادارې د مشر د سفر په ترڅ کې تهران او واشنګټن چې د ۲۰۱۵ز کال اټومي تړون ته د بېرته ورګرځېدو لپاره‌یې پر یو بل فشارونه زیات کړي، ویلي چې د نویو خبرو ور یې پرانیستی دی.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
### کابوکي





که د مشرانو خبره وکړو، نو چې جګړه چې ځنګه به هم روانه، په دواړو پوځونو کې د «مانک شا» له سرحدي غونډونو « ٦FF» (اصلي کنډک، او د سرحدي ځواکونو غونډ) سره لګېده، د دواړو جګړو په اوږدو کې به ده پوښتل چې «FF٦» ځنګه لګیا دي. همدارنګه د لوړې کچې په مشرانو کې د ډېسای نوم د ستایلو دی. امریکایانو ده ته ویلي و چې د پاکستانیانو خلاف ورسره ودرېږي. ځکه دغه مهال موږ چې د اټومي وسلو جوړولو ته د هر قیمت په بدل ملا تړلې وه.
ډېسای ورته ویلي چې ستاسې په خوله د خپل ګاونډي پر خلاف نه درېږم.
دغه کارونه ممکن ځینو کسانو شخصاً کړي، نورو ښایي ګډ تاریخ ته کتلي وي او چا به د ګاونډیتوب په پار کړي وي. همدغه مثبت کارونه دي.
سېنها: موراجي بهایي په عام محضر کې دغه خبره وکړه، همدغسې ده کنه؟
دولت: ډېر وخت پرې تېر شوی، نه مې یادېږي.
دوراني: هغه مهال د ده رویې موږ ته دغه پیغام را کاوه. ډېسای پر دې باور و چې ګاونډیان باید د نورو په اشارو د یو بل پر خلاف لوبې پیل نه کړي.
موږ به خپلو منځونو کې ستونزې سره لرو، خو که موږ د بل چا په خبره د هند پر ضد څه کوو او هند ته تاوان رسوو، دا به نو زموږ حماقت وي. دوی له موږ ډېر لرې پراته دي، دوی به پر خپله مخه لاړ شي، موږ به خړې سترګې نیولې وي.
مثلاً شوروي اتحاد چې پر افغانستان یرغل وکړ، موږ او امریکایان سره متحدین وو؛ امریکایانو په کراتو مراتو موږ ته دا خبره زمزمه کوله چې له ایران سره نږدې اړیکې مه پالئ، دوی زموږ کسان یرغمل کړي دي. دوی ته به د ضیاءالحق ځواب تل دا و چې موږ له چین سره اړیکې جوړې کړې، که څه هم ستاسې د پاکستان او چین سیمه‌ییز شراکت نه غوښت، و دې شي چې یوه ورځ تاسې له ایران سره خبرو ته زړه وشي او موږ به مو سره وصل کوو. فرضاً که تاسې دغسې و هم نه‌کړئ، موږ ځان ته په خپل ګاونډ کې ستونزې نه جوړوو.
که څه هم امریکا به پرې برېوس کېده او د تهران او اسلام‌اباد ترمنځ یو څه زړه بدي هم وو؛ خو موږ به بیا هم په واشنګټن کې د ایران چمبه کوله. کېدای شي چې پر دې خبره لا ډېر خبر هم نه وي.
دولت: ټول پر دې خبره اعتراف کوي چې ضیاءالحق د عامه اړیکو متخصص و. مثلاً د کریکټ ډیپلوماسي او هند ته راتګ او دغسې نور یې در واخلئ.
یو لوی شخصیت چې بل هېواد ته ځي، کوربه هېواد یې د امنیت ساتلو لپاره یو څوک ګوماري. دغه کار په ټولو هېوادونو کې دود دی. په هند کې دغه مسئولیت د «استخباراتي بېرو» و. ضیاءالحق جګپوړی چارواکی و چې هند ته راته. د معمول خلاف د ضیاء د امنیت لپاره مرستیال رئیس ګومارل شوی و. دغه مسئولیت «او. پي. شرما» ته ورسپارل شوی و، دی وروسته بیا د «نګالینډ» والي مقرر شو. ضیاءالحق چې بېرته پاکستان ته لاړ ده ویل: «بهائی یہ غضب کا آدمی ہیں. مانا دا چې دی عجیبه انسان دی. ډېر ښایسته دی، مهربانه دی او خوش اخلاقه انسان دی، بس چې څه د کمال صفتونه دي په ده کې شته.» جالبه دا وه چې پنځه ورځې وروسته جنرال ضیاء، «او. پي. شرما» ته یو شخصي لیک را واستاوه. شرما له خوشالۍ په جامو کې نه ځایېده. لیک یې موږ ته را وښود، ویل یې: «دا وګورئ، جنرال صیب راته شخصي لیک رالېږلی دی. زه معمولاً دغه دنده ترسره کوم، خو یوازې مارګارېټ ټاچر را ته یو فوټوګراف را استولی و. د برېټانیایي شهزاده د امنیت مسئول برمنګهم ماڼۍ څخه د لیدنې وړاندیز وکړ.یاسر عرفات هم په زړه پورې انسان و، غېږ به یې درنه چاپېر کړه او ګډ انځور به یې درسره واخیست. خو چا هم راته په خپل لاس لیکلی لیک را استولی نه دی.»
سېنها: جنرال ضیاء، موراجي ډېسای پر مډال و نه نازاوه یا یې په پګړۍ کې ګلان ور و نه ټومبل؟
دوراني: جنرال ضیاء له ډېر احتیاطه کار اخیست، که دغه کار شوی وای، نو یقیناً چې پر مډال به یې نازولی وای. موږ خو ځکه وایو چې ده ځینې مسایل ښه سمبال کړل.
پوهېږې، دغه لړۍ پای نه لري.

**دوام لري...**

# دوکتور نور احمد میرازي

شفیق امیرزی



پوهاند دوکتور نور احمد میرازي د هېواد یو وياړلی علمي شخصیت او خدمتګار و. مرحوم استاد میرازي پوره نیمه پېړۍ د کابل پوهنتون په بیالوژي پوهنځي کې د استاد دنده تر سره کړه. هغه په پښتنې ټولنه کې په پښتني فرهنګ، هویت او دودو دستور کې را لوی شو، لوړو علمي رتبو ته ورسېد او ګام پر ګام یې د دې وطن خاورې، بوټې او انسان ته خدمت وکړ. استاد په یوه لرې پراته کلي کې سترګې نړۍ ته وغړولې، بیا یې د نړۍ په معتبر پوهنتون کې تر دوکتورا زده کړې وکړې، تر هغه وروسته یې د هېواد په مشهور پوهنتون کې د تدریس سپېڅلې دنده مخ ته وړله. هغه کسان چې له استاد میرازي سره نږدې پاتې شوي، پوهېږي چې هغه څومره لوی، په وطن مین، عالم، زیارکښ او یو رښتینی افغان انسان و. د ده شاګردان او همکاران له ده خوږې خاطرې لري. پر چارو یې ویاړي او ټول اکاډمیک شخصیتونه یې هڅو ته په درنه سترګه ګوري. استاد لایق و، نوی ځوان و چې د کابل په رحمان بابا لیسه کې یې علمي استعداد وځلېد، له همدې ځایه یې وړتیا ته په کتو پرېکړه وشوه، چې المان ته د لوړو زده کړو لپاره ولېږل شي، هلته یې هم خپله وړتیا وښوده، ماسټري یې بشپړه او په زیار او لیاقت یې ان خپله پي اېچ ډي هم له دې هېواد واخیسته.
مرحوم استاد نور احمد میرازي په ۱۳۲۳ کال د پکتیا ولایت د ځاځیو ولسوالۍ په میرازي کلي کې په یوه درنه کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي. د لومړنیو زده کړو لپاره کابل ته راغی او د رحمان بابا په عالي لیسه کې شامل شو. تر هغه وروسته یې همدلته منځنیو او ثانوي زده کړو ته هم ادامه ورکړه. هغه لایق انسان و، زیار یې ایسته او پر خپلو زده کړو یې تمرکز کاوه. د همدې لیاقت او زیار پایله وه چې په ۱۳۴۱ کال کې د وخت حکومت د لوړو زده کړو لپاره جرمني ته ولېږه. استاد په جرمني کې د خپلو زده کړو د دوام لپاره اړ و چې لومړی جرمني ژبه زده کړي. د جرمني ژبې د زده کړې پروګرامونه یې تعقیب کړل او د خدای ورکړي استعداد په برکت یې په جرمني ژبه رواني خبرې کول، لوستل او لیکل زده کړل. په ۱۹۶۳ کال کې یې د جرمني ژبې تر زده کړې وروسته د جرمني په فرانکفورت کې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړه. هلته یې ټاکلي کالج ته داخله وکړه او هڅه یې دا وه چې ځان د پوهې او علم په ګاڼه سمبال کړي، چې د همدې هڅو په پایله کې استاد دغه کالج په لوړو نومرو بشپړ کړ. د دې کالج تر بشپړولو او د لوړو نومرو تر اخیستلو وروسته یې د لا ډېرو زده کړو لپاره پوهنتون ته لار ومونده.
استاد له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۹ کال پورې د المان په (Johannes Gutenberg) پوهنتون کې خپله ماسټري بشپړه کړه او له خپل تېزس یې په پوره بریا دفاع وکړه. دا چې هغه پیاوړی او لایق شخصیت و، نو د ماسټرۍ تر دفاع وروسته یاد پوهنتون نوموړي ته د دوکتورا فرصت برابر کړ او استاد خپلو زده کړو ته ادامه ورکړه. استاد په ۱۹۷۲ کال کې په بریالۍ توګه د دوکتورا له تېزس دفاع وکړه او د هغه وخت الماني پوهانو یې علمي هڅې وستایلې او پوهاند صاحب میرازي د دوکتورا له درجې سره یو ځای بېرته هېواد ته راستون شو. د مرحوم استاد نږدې ملګري وايي چې ډېرو الماني پوهانو له ده په المان کې د پاتې کېدو او هلته ته د تدریس غوښتنه وکړه، خو پوهان میرازي یې غوښتنه رد کړه او پر خپل هېواد او خلکو د مین شخصیت په توګه کابل ته راستون شو او په کابل پوهنتون کې یې د هغه وخت په ساینس پوهنځي کې په تدریس پیل وکړ. د معلوماتو له مخې، مرحوم استاد میرازی د ۱۳۵۱ کال په منې کې هېواد ته راستون شو. په همدې وخت کې د کابل پوهنتون د ساینس پوهنې په بیولوژي څانګه کې د استاد په توګه مقرر شو او د هېواد بچیانو ته یې د تدریس مسوولیت پر غاړه واخیست. هغه له دې وروسته دا مقدسه دنده پرې نه ښوده او کابو نیمه پېړۍ د خپلو شاګردانو او علم د مینه والو په چوپړ کې و.
د مرحوم استاد د همکارانو په خبره، هغه داسې مهال هېواد ته راستون شو او په اکاډمیک چاپېریال کې یې دنده پیل کړه، چې هېواد متخصصو او علمي شخصیتونو ته سخته اړتیا لرله. د هغه نږدې ملګري وايي، سره له دې چې ده ښې دندې پیدا کولی شوای او په ښو ځایونو کې یې پر لوړو څوکیو کار کولی شوای، خو استاد د تدریس دنده غوره وبله او د کابل پوهنتون په چاپېریال کې یې د ژوند نوی پړاو پیل کړ. هغه مهال په کابل پوهنتون کې د کورنیو علمي شخصیتونو تر څنګ، بهرنیو علمي او اکاډمیکو څېرو هم د تدریس چارې پر مخ وړې. دا چې استاد میرازی په الماني ژبه برلاسی و، نو له دې استادانو او څېړونکو سره یې له نږدې اړیکې لرلې او په مهمو چارو یې لاس پورې کړ. د کابل پوهنتون د بیولوژي پوهنځي د ملي شتمنۍ یو مرکز لري، چې (Herbarium) نومېږي. په دې کې د افغانستان د ډېرې بوټو یا نباتاتو ډولونه او نمونې راټولې او آرشیف شوې دي. د دې مرکز په جوړولو او پیاوړي کولو کې د استاد میرازي رول خورا زیات و. استاد له الماني پوهانو سره په ګډه د افغانستان ګوټ ګوټ ته سفر کړی دی، د افغانستان مهم نباتات یې تشخیص کړي، د هغوی ځانګړنې یې واضح کړې دي، راټول کړي یې دي، نمونه یې وربانديې ایښې او په دې مرکز کې یې د دوی نمونې خوندي کړې دي. دا د استاد له هغو مهمو کارونو دي چې په کابل پوهنتون کې یې د دندې له پیلېدو سره سم پیل او بشپړ کړي دي.
دا د ساینس په برخه کې د افغانستان ستره شتمني ده چې د افغانستان ډېره برخه نباتات پکې تر څېړنې وروسته خوندي شوي دي. په ټول هېواد کې د نباتاتو د انواعو همدا یو مرکز دی چې د مرحوم میرازي صاحب په منډه ترړو جوړ شوی دی. مرحوم استاد میرزای له جرمني استادانو سره په ګډه د هېواد په غرو رغو وګرځېد، لرو پرتو سیمو ته یې سفرونه وکړل او دغه بوټي یې راټول کړل چې نن یې د نورو څېړونکو لپاره چارې ډېرې اسانه کړې دي.
استاد د تدریس، علمي سفرونو او تحقیق تر څنګ د ساینس په برخه کې مهم اثار هم لیکلي دي. د معلوماتو له مخې، هغه تر دېرشو ډېر بېلابېل اثار په پښتو او الماني ژبه لیکلي دي. مقالې یې خپرې کړې دي او تحقیقي اثار یې پنځولي. مرحوم دوکتور صاحب میرازي د هېواد د فرهنګي بډاینې لپاره ستره قرباني ورکړې ده. استاد په نشت امکاناتو او ډېره سختۍ کې هڅه کوله چې اثار وپنځوي، د افغاني فرهنګ بډایتوب لپاره کار وکړي، د پښتني ټب علمي سویه لوړه کړي او د دوی لپاره د زده کړو او پرمختګ زمینه برابره کړي.
استاد د ملت جوړونې او ملت د ودې لپاره پوره پنځوس کاله فعالیت او هڅه کړې ده. استاد یو سترګور او رښتینی محقق و. هغه په علمي مسایلو کې ډېر حساس و او د تحقیق او څېړنې له معاصرو اصولو سره بلد و. هغه په هره برخه کې د نرمې طبعې سړی و، خو کله به چې له علمي حقایقو د دفاع وخت راغی، دلایل به یې علمي او پر اسنادو ولاړ وو. استاد میرازی د ظاهرشاه د واکمنۍ پر مهال هېواد ته راغی. دغه مهال اکاډمیک چاپیریالونه نوي نوي په ښو درېدل او پیاوړي کېدل. له همدې امله د تعلیمي او تحصیلي کچې په لوړولو کې د استاد هڅې د ستایلو وړ دي. دی د کلونو لپاره د کابل پوهنتون په تضمین کیفیت کې فعال و. هغه د تدریس له پرمختللو او مډرنو اصولو سره بلد و. مخکې مو هم وویل چې استاد ته په بېلو برخو کې د ښو دندو او واک چانس و، خو دی هېڅکله له اکاډمیک چاپېریال بهر نه شو. ان هغه مهال چې په هېواد کې د جګړو او خونړیو بریدونو شپې او ورځې وې او هر انسان له دې خاورې کوچېده، استاد په کابل پوهنتون کې په تدریس بوخت و.
د هغه ملګري او شاګردان وايي چې ان په پوهنتون او د استاد پر کور هم راکټونه لګېدل، خو له چانسونو او د خلکو له غوښتنو سره سره ده هېواد پرې نه ښود او په کابل پوهنتون کې یې د تدریس چارې مخ ته وړلې. هغه په یوه غونډه کې وویل چې بهر ته د تګ او ان په المان کې د الماني پوهنتونونو له غوښتنې سره سره یې خپل هېواد پرې نه ښود او دلته یې د هېواد د بچیانو روزنې ته ادامه ورکړه. ده نه یوازې د تدریس چارې پر مخ وړې؛ بلکې هڅه یې دا وه چې په ساینس پوهنځي کې شته علمي اثار او وسایل د جګړو او جګړه مارو له شره وساتي.
اروابناد پوهاند صاحب میرازي د تدریس او تحقیق تر څنګ د بیولوژي څانګې مشر، د کانکور کمېټې غړی، د ترفیعاتو کمېټې غړی، د ساینس پوهنځي سرپرست رییس، د کابل پوهنتون د نشراتو رییس، د کابل پوهنتون د علمي شورا غړی، د ساینس پوهنځي د علمي شورا غړی او د کابل پوهنتون د تضمین کیفیت د کمېټې د غړي په توګه هم دندې تر سره کړې دي. استاد د دې تر څنګ، نړیوال سفرونه هم لرلي دي، هغه سریلانکا، اردن، هندوستان، جرمني او ځینو نورو هېوادونو ته علمي سفرونه کړي او په مهمو کنفرانسونو کې یې د افغانستان استازیتوب کړی دی. استاد په انګلیسي، پښتو، دري او الماني ژبه په روان ډول خبرې، لیکل او لوستل کولی شوای.
هغه په شخصي ژوند او دغه راز په اکاډمیک چاپېریال کې یو نرم خویه، د لویې حوصلې خاوند او دروند شخصیت لرونکی انسان و. د استاد شاګردان او همکاران وايي چې استاد ورسره تل ښه چلند کاوه، دوی به یې پرمختګ ته هڅول او په علمي چارو کې به یې د دوی لاسنیوی کاوه. استاد یو با سلیقه، خوش طبعه او د پراخ فکر لرونکی و. هغه یو علمي او ملي شخصیت و، له تعصب او کینې پاک و، په هېڅ سیاسي جریان کې یې برخه وا نه خیسته؛ خو د لسیزو په اړو دوړ کې ټولو لورو د یوه اکاډمیک شخصیت په توګه درناوی ورته درلود او د ده د کارونو قدر یې کاوه. استاد د کابل پوهنتون بیولوژي څانګې ته د پام وړ خدمتونه کړي دي. د همدې خدمتونو په ویاړ د دغه پوهنځي استادانو په ۱۳۹۵ کال کې د بیولوژي څانګې شپږم درسي تالار د هغه په نامه و نوماوه. پر دې تالار اوس (د پوهاند دوکتور نور احمد میرازي تالار) لیکل شوي دي. استاد په اکاډمیک چاپېریال کې تر نیمې پېړۍ زیار او خدمت وروسته د ورپېښې ناروغۍ له امله له دې فاني نړۍ سره مخه ښه وکړه. د لوړو زده کړو وزارت او کابل پوهنتون د استاد میرازي مړینه ستره ضایعه وبله. ولسمشر غني هم د یوه پیغام په خپرولو سره ویلي چې افغانستان او افغان انسان به د استاد میرازي هڅې او خدمات هېر نه کړي. ولسمشر هغه یو ستر انسان یاد کړی او په خبره یې، مړینه یې د هېواد په اکاډمیک چاپېریال کې ستره ضایعه ده.

اقتصاد

د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷.۳۰ |
| € | ۹۳.۴۰ |
| Rp. | ۵۸٦ |
| ₹ | ۱۰٦۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۷.۸۰ |

بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# که غواړې چې بريالي شی؛ دا اته پوښتنې ځواب کړئ

ژباړه: حامد احمدزی

که غواړې په راتلونکي کې يو بريالی شخص او د نورو لپاره يوه ايډيال و اوسی، نو يوه لاره شته چې تاسو دې موخې ته رسوي. په خپلو وړتياوو پانګونه وکړئ او ځان هغه ځای ته ورسوئ څو مو خپل ځان او نورو ته خير ورسېږي. شخصي پرمختګ د شخصي مهارتونو او وړتياوو ارزولو لپاره يوه لار ده. که د ځان لپاره اهداف ولری او د لاسته راوړلو لپاره يې خپلې وړتياوې پياوړې کړئ، نو تاسو به د شخصي پرمختګ په سمه لار حرکت کړی وي.

شخصي پرمختګ پر ځان باور او د مهارتونو د زده کړې په ځبر يو څه دي، چې کولی شی په ژوند کې غوره پرېکړې وکړی او ښه ژوند جوړ کړی. د شخصي پرمختګ سفر د يو څو پوښتنو په کولو سره پيليږي. په دې ليکنه کې د شخصي پرمختګ په اړه ځينو پوښتنو ته ځوابونه ويل شوي دي.

۱- په څه ډول ځای کې کار کوم او د نورو لپاره څه کولی شم؟

کله مو دې ته فکر کړی چې نور له تاسو سره په يوه کار کې مرسته کوي او دغه مرسته څومره تاسو ته خوشحالي درکوي، ياني کله چې نور له موږ سره مرسته کوي، موږ سره هم همدا فکر پيدا کيږي چې زه هم بايد په ځينو کارونو که د مقابل لوري لاسنيوی او د ستونزې په حل کې ورسره مرسته وکړم.

مرسته يو له هغو اقداماتو څخه ده چې موږ د شخصي پرمختګ په لاره کې ورته اړتيا لرو. موږ بايد تل له ځان وپوښتو چې په کومو برخو کې له نورو سره مرسته کولی شو. هر وخت چې موږ په ځينو برخو کې له نورو سره مرسته کوو؛ دا وخت موږ وده کوو او په هغه برخه کې ډېر څه لاسته راوړو. نو د شخصي پرمختګ لپاره د نورو مرستې ته په کمه سترګه مه ګورئ.

۲- له سختۍ پرته بريا ته رسېدی شو؟

هوښيار خلک بريا ته د رسېدو لپاره په خپلو وړتياوو کار کوي، دوی د ښو کارونو په تر سره کولو سره پر خپل ځان وياړي او که کومه تېروتنه وکړي، په خپل ځان نيوکه هم کوي. موږ نشو کولی له سختۍ او سترېا پرته برياليتوب تر لاسه کړو. نو که موږ غواړو شخصي وده او پرمختګ تر لاسه کړو، بايد رښتينې هڅه وکړو او په دوامداره توګه د پرمختګ پروسه وڅارو.



۳- په ژوند کې مهم ارزښتونه کوم دي؟

په شخصي ارزښتونو کې داسې ځانګړنې شاملې دي چې له موږ سره په مهمو او حساسو پرېکړو کې مرسته کوي. موږ هغه وخت د ډاډ احساس کوو کله چې زموږ پرېکړې او عمل د ارزښتونو پر اساس وي. نو که موږ شخصي پرمختګ غواړو، بايد خپل ارزښتونه په دقت سره وټاکو او د دې ارزښتونو پر اساس مخکې لاړ شو.

۴- زما په ژوند کې تر ټولو مهم شی څه دي؟

موږ ټول غواړو په ژوند کې يو څه تر لاسه کړو، خو يوه غوښتنه مو د نورو په پرتله ډېره مهمه ده، دا غوښتنه کيدای شي مادي او يا هم معنوي وي.

۵- ايا د يوه څه لاسته راوړلو لپاره سخت کار کولو ته چمتو يو؟

په ژوند کې د هر څه لاسته رواړل د هڅې او پرې د تمرکز پايله ده. ځينې وخت له يوې ستونزې سره مخ کيږو او درانه کارونه را باندې ډېرېږي، خو غيرت بايد ونه بايلو او د خپلې بريا لپاره خپلې هڅې ته ادامه ورکړو. که غواړو چې بريا تر لاسه کړو، بايد سخت حالتونه وزغمو.

۶- د ګيلاس ډک لوري ته هم پام کوی؟

په ژوند کې ډېر کله له لوړو ژورو سره مخ کيږو. دا سمه ده چې سختې او ترخې شېبې موږ يو ډول ناراحته کوي او کله کله په ځينو وختونو کې موږ غوسه کيږو هم، خو دا هم امکان لري چې له دې حالت څخه ځان وژغورو او خپل فکر سم لوري ته برابر کړو. هر کله چې له سختيو سره مخ کيږو، بايد له ځانه دا هم وپوښتو چې د روښنايي لپاره يوه کړکۍ حتمن شته.

۷- د ژوند کولو لپاره زما دليل څه دی؟

د يوه مانا لرونکي ژوند لپاره يو دليل حتمن شته، د المان د ارواپوهنې يوه ډاکټر ويکتور فرانکل ويلي، بريا هغه وخت ستاسو ژوند ته راځي کله چې خپله وړتيا پياوړې او د تر لاسه کولو هڅه يې وکړی. پورته جمله څو ځلې ولولئ. بې ارزښته يې مه ګڼئ، تاسو بايد خپل ژوند دومره پراخ کړئ څومره مو چې زړه غواړي او ټولې هغه خوښۍ لاسته راوړئ چې تاسو يې تر لاسه کول غواړی.

۸- د خپل پلان مطابق به په راتلونکو پنځو کلونو کې زه د نړۍ په کومه څنډه کې وم؟

که غواړی چې د خپل راتلونکي لپاره يو ښه ليدلوری ولری، د بېلګې په ډول، په راتلونکو پنځو کلونو کې به زه چيرې وم؟ دا بايد وګورو چې اوسمهال په کوم ځای کې يو، زموږ ورځنۍ کارونه کوم دي او پر ژوند مو څه اغيز لري. زموږ اوسنې ورځنۍ فعاليتونه په راتلونکي کې زموږ پر ژوند مستقيم اغېز لري. ايا په کوم لوري چې اوس روان يو، موږ خپلو هغو هيلو ته رسوي چې په راتلونکي کې يې غواړو؟

دا بايد له ځان سره مشخصه کړئ او ښه باوري شئ چې ستاسې نننۍ فعاليتونه سبا تاسې خپلو موخو ته رسوي. که داسې نه وي، هسې به مو وخت او انرژي مصرف کړي وي.

# له نږدې دوه مياشتي جنجال وروسته، ولسي جرګې د ۱۴۰۰ مالي کال بودجه تصويب کړه

ولسي جرګې له نږدې دوه مياشتي جنجال وروسته د ۱۴۰۰ مالي کال بودجه تصويب کړه.

د جرګې مشر مير رحمان رحماني پرون د جرګې په عمومي غونډه کې وويل، د خلکو د استازو هڅې د دې لامل شوې، چې حکومتيې سپارښتنې او غوښتنې ومنې. رحماني زياتوي: «ستاسو پر ځای او عادلانه هڅې د دې لامل شوې چې حکومت ستاسې معقولې غوښتنې ومنلې چې له دې ډلې سر له حمل مياشتې د دولت د ټيټ پوړو مامورينو او ښوونکو په معاشونو کې دوه زره افغانۍ زياتې شوې.»

د ولسي جرګې د مالي او بودجې کمېسيون مشر مير افغان صافي په بودجه کې د بدلونونو په اړه وويل، د ماليې وزارت لهٔخوا د مالي کال بودجې په درېيمې مسوده کې ۱۹ موارده له هر اړخيز بحثونو وروسته حل شوي دي. نوموړی زياتوي، په بودجه کې د نورو مواردو ترڅنګ، ملي دسترخوان او لوړ رتبه چارواکو ته د دسترخوان پيسو ورکړه لهٔمنځه وړل شوې ده.



د يادونې ده چې افغان حکومت د دلوې په ۱۸مه د ۱۴۰۰ مالي کال بودجې درېيمه مسوده د بحث لپاره جرګې ته ولېږله چې بالاخره له نږدې دوو اوونيو بحثونو وروسته ومنل شوه.

ولسمشر غني هم د ولسي جرګې لهٔخوا د ۱۴۰۰ مالي کال بودجې تصويب په اړه خوښي څرګنده کړې. ولسمشر مرستيال وياند دواخان مينهٔپال رسنيو ته په استول شوي پيغام کې ويلي: «ولسمشر د ولسي جرګې د غړو دا پرېکړه چې بودجهٔيې د هېواد ملي ګټو ته په کتو تصويب کړه، ستاينه وکړه او دا يې د افغانستان اسلامي جمهوريت د پلانونو او برنامو، په ځانګړې توګه په ټول هېواد کې د انکشافي پروژو د پلي کېدو په اړه اړينه پرېکړه وګڼله.»

تر دې وړاندې د ۱۴۰۰ مالي کال په بودجه کې د معاشونو نه يو شان والی، د ۲۱ زره تشکيلاتو کمښت، د هغو ادارو شتون چې ولسي جرګې نه دي تصويب کړي او ملي دسترخوان هغه ټکي وو چې ولسي جرګې يې له امله دا بودجه دوه ځلې رد کړې وه.

د ۱۴۰۰ مالي کال ټوله بودجه ۴۷۳ ميلياړده افغانۍ ده، چې ۳۱۱ ميلياړده يې عادي او ۱٦۱ ميلياړد افغانۍ يې پراختيايي برخې ته ځانګړې شوې ده.

# ولسمشرغني: د تاوتريخوالي وروستۍ څپه پر افغان ټولنې سيستماتيک بريد دی

ولسمشر غني وايي، په هېواد کې د تاوتريخوالي وروستۍ څپه پر افغان ټولنې سيستماتيک بريد دی.

نوموړي د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا ۴٦ غونډې ته د ويډيويي کنفرانس له لارې په وينا کې وويل، چې په افغانستان کې پر ښځو، نارينه وو، مدني فعالانو او د ټولنې پر نورو غړو هدفي بريدونه مخامخ ګوزار دی. ولسمشر غني داسې مهال دا څرګندونې کوي، چې په افغانستان کې تر بل هر وخت د تاوتريخوالي زياتېدو په اړه اندېښنې زياتې شوې دي.

د تاوتريخوالي د تازه پېښو په دوام، ورمه ورځ په کابل ښار کې د چسپکي ماين په چاودنه کې څلور تنه ووژل شول او پنځه تنه نور ټپيان شول. پر همدې مهال د ولسمشر غني دويم مرستيال سرور دانش هم د تاوتريخوالي زياتېدو ته په اشارې ويلي، چې د بشري حقونو مسئله د سولې بهير او له طالبانو سره په خبرو کې بايد د يو اساسي اصل په توګه مطرح شي.



نوموړي دغه څرګدونې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د برخې له مشرې فيونا فريز سره د ليدنې پرمهال کړې دي. هغه ويلي، که څه هم تر دې مهاله د طالبانو لخوا د بشري حقونو مسئلې ته کوم ځانګړی احترام او ملاتړ نه احساسيږي، خو زياته کړې يې ده، چې اړوند بنسټونه او نړيواله ټولنه بايد په دې برخه کې پر طالبانو فشار راوړي.

تر دې مخکې بېلابېلو نړيوالو بنسټونو هم په افغانستان کې د تاوتريخوالي زياتېدو په اړه د اندېښنې څرګندلو ترڅنګ په دغه هېواد کې هدفي بريدونو د مخنيوي غوښتنه کړې وه.

يوناما روانه مياشت په خپل راپور کې وويل، چې د سولې د بين الافغاني خبرو له پيلېدو څخه بيا د جنورۍ مياشتې تر وروستۍ نېټې پورې شپږ خبريالان او پنځه تنه بشري فعالان په هدفي بريدونو کې وژل شوي دي. د يادونې ده چې تر دې مهاله د دغو هدفي بريدونو مسوولیت کومې وسله والې ډلې نه دی منلی.

مسیر ورځپانه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
ایډېټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
ګرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د کب پنځمه | د ۲۰۲۱ د فبروري ۲۳مه | ٦۸۵یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | ۲۰ | ۱۵ | ۱۳ | ۲۳ | ۱۵ |
| ۳ | ٤ | ۵ | ۲ | ۱۲ | ۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۷ | لمر ختل ۰٦:۳۱ | ماسپښين ۱۲:۰۷ | مازيګر ۰۴:۰۴ | ماښام ۰۵:٤٤ | ماخوستن ۰۷:۰۸


## نړۍ



گروسي: له ايران سره د اټومي څارنې د پرېکون د مخنيوي په تړاو هوکړې ته رسېدلي يو

۳

## گوترېش: د ميانمار پوځ دې د لاريونوالو پر وړاندې له ځپونکو اقداماتو ډډه وکړي



د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونيو ګوترېش په ميانمار کې د معترضانو پر وړاندې د پوځ خونړی تاوتریخوالی غندلی دی.

وروسته له هغې چې نږدې درې اونۍ مخکې د دغه هېواد پوځ کودتا وکړه او د چارو واګې يې په لاس کې واخيستې، روانه اونۍ‌يوه ځوانه ښځه ووژل شوه، چې هغه د دغو اعتراضونو لومړنۍ قرباني وه.

د هغې وژنه د ډيموکراسۍ پلوي غورځنګ پر يوه سمبول بدله شوې او ورمه شپه يې هم معترضانو په لويو ښارونو کې په ياد شمعې بلې کړې او د دعا مراسم ترسره کړل. له هغې وروسته د فبرورۍ په ۲۰مه د برما په دويم لوی ښار مندالي کې دوه تنه نور معترضان ووژل شول، چې د امريکا متحده ايالتونو او اورپايي ټولنې يې پر وړاندې غبرګون ښودلی او د معترضانو خونړۍ ځپنه يې وغندله.

په ورته مهال د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونيو ګوترېش هم په يوه بيان کې ويلي، چې د سوله‌ييزو معترضانو پر وړاندې له ګرمو وسلو کار اخيستل، د هغوی وېرول او ځورول د منلو نه‌دي. د يادونې ده چې د فبرورۍ په لومړۍ نېټه د ميانمار پوځ کودتا وکړه او د ملکي حکومت مشره انګ سان سوچي يې په کور کې نظربند کړه. له هغې وروسته د ميانمار په لويو ښارونو کې د پوځ د دغه اقدام پر وړاندې پراخ لاريونونه پيل شوي دي.

## اکسفام: برېتانيا دې پر سعودي د وسلو په خرڅولو سره د يمن جګړه نه اوږدوي

د اکسفام په نامه د مرستې رسونې يوه نړيوال بنسټ برېتانيا د يمن جګړې پر اوږدولو تورنه کړې ده.

ياد بنسټ ويلي، چې برېتانيا پر سعودي د وسلو پلورلو له لارې په يمن کې د جګړې بل شوي اور ته سون توکي برابروي. ګارډين ورځپاڼې د اکسفام د يو چارواکي له قوله ويلي، چې برېتانيا پر سعودي د وسلو پلورلو له لارې د يمن جګړې اوږدېدو سره مرسته کړې ده.

سرچينې ويلي، چې برېتانيا په دې وروستيو کې له سعودي سره د ۱.۴ ميلیارده ډالرو په ارزښت د نورو وسلو تړون هم کړی، چې دا چاره به په يمن کې د بې وزلۍ او دغه راز د لسګونه زره کسانو د تباهۍ لامل شي. دغه بنسټ له نړيوالې ټولنې غوښتنه کړې، چې له سعودي سره دې له مرستې لاس واخلي، ځکه چې د سعودي په مشرۍ ائتلاف يمن له يو بېساري بشري ناورين سره مخ کړی دی.

د يادونې ده چې د يمن په کورنۍ جګړه کې تر دې دمه لسګونه زره کسان وژل او سلګونه زره نور بېرنيو هېوادونو ته کډه شوي دي. د يمن په جګړه کې د سعودي په مشرۍ ائتلاف له ولسمشر عبدربه منصور هادي او ايران بيا له حوثي ملېشو ملاتړ کوي.

## با گذشت سه ماه از فرمان رئیس جمهور هنوز هم ساختار کمیسیون مبارزه با فساد اداری تکمیل نشده



با گذشت سه ماه از فرمان رئیس جمهور درباره ایجاد کمیسیون مبارزه با فساد اداری تنها سی درصد ساختار اداری این نهاد تکمیل شده است.

رئیس این کمیسیون می گوید که ریاست ثبت داری ها و دارالانشا ویژه مبارزه با فساد اداری از اداره امور ریاست جمهوری با کمیسیون مبارزه با فساد اداری مدغم شده اند.

عبدالقیوم نیازی می افزاید با آن که هنوز ساختار این نهاد نهایی نشده است اما درحدود سی پرونده بزرگ وکوچک فساد درآن ثبت شده اند.

نهادهای ناظر از مبارزه حکومت با فساد اداری می گویند که اعضای این کمیسیون از سوی رئیس جمهور و به گونه غیر قانونی گزینش شده اند.


رئیس این کمیسیون می گوید با آن هنوز تنها سی درصد کارمندان این نهاد استخدام شده اند اما حدود سی پرونده بزرگ و کوچک فساد در این اداره ثبت شده است.

ریاست ثبت داری ها و دارالانشا ویژه مبارزه با فساد اداری دو بخش اداره امور ریاست جمهوری بودند که با کمیسیون مبارزه با فساد اداری مدغم میشود کمیته مستقل مبارزه با فساد اداری نیز منحل شده و کارمندان آن در این کمیسیون گماشته می شوند.

میوند روحانی رئیس پیشین کمیته مستقل مبارزه با فساد اداری گفت: «وقتی حکومت یک شخص را مقرر می کند بر بنیاد حکم رئیس جمهور به این معنا است که این شخص سیاسی است وقتی که شخص سیاسی باشد و براساس فرمان رییس جمهور آمده باشد کارمند حکومت باشد چطور می تواند با فسادی که در حکومت وجود دارد مبارزه کند.»

## ژوند

## مالته د ويټامين C غوره سرچينه ده




مالته د ويټامين C غوره سرچينه ده چې په خوړلو سره يې د پوستکي ښکلا، د سترګو ځير او د وجود دفاعي سيسټم پياوړی کېږي. دغه راز د يوې نوې څېړنې پر اساس په ورځنۍ توګه د مالتې او يا يې هم د جوسو څښل مغزو ته ارامښت ورکوي.

د برېتانيې د «ريډينګ» پوهنتون روغتيا پوهانو د خپلې يوې نوې څېړنې پر مهال د دوو مياشتو لپاره له ٦۰ تر ۸۱ کلونو پر عمر لرونکو کسانو ۵۰۰ ملي لېټره د مالتې جوس وڅښل. د څېړنې پر مهال د دغو خلکو په خبرو کې تعادل او برابروالی، د مغزي وړتياوو او اورېدلو حس او ځواب ويلو کې په تدريج سره غوره والی راغلی و.

دغه روغتيا پوهان وايي، په مالته کې د «فلووينويډز» په نوم کيمياوي ماده په زياته اندازه شته چې د مغزو د پوهېدو او معلوماتو د زېرمتون تر يوې مهمې برخې «هيپو کمپس» پورې د سيګنال او پيغام رسولو پروسه پياوړې کوي.

## ګلکسي اې۵۲ او اې۷۲ به دغه مهمه ځانګړنه هم ولري



ګلکسي اې لړۍ د سامسُنګ کمپنۍ غوره ځانګړنې او مناسبه بيه لرونکو ځيرکو موبايلونو لړۍ ده، چې تېر کال د دې لړۍ ګلکسي اې۵۱ او ګلکسي اې۷۱ د کاروونکو له تود هرکلي سره مخ شول. اوس سامسُنګ کمپنۍ غواړي د دې لړۍ نوي او پرمختللي ځيرک موبايلونه ګلکسي اې۵۲ او ګلکسي اې۷۲ خرڅلاو ته وړاندې کړي. له دې وړاندې يوازې د سامسُنګ کمپنۍ ګران بيه ځيرک موبايلونه له لوړ ريفرېش ريټ څخه د ملاتړ وړتيا درلوده، خو اوس يوې باورې سرچينې ادعا کړې چې دغه ځانګړنه به ګلکسي اې۵۲ او اې۷۲ کې هم وړاندې شي. افشا شوي معلومات ښيي چې ګلکسي اې۵۲ ۵جي به په شاتنۍ برخه کې څلور کامرې ولري چې ٦۴ مېګاپکسله اصلي، ۱۲ مېګاپکسله الټرا وايډ اېنګل، ۵ مېګاپکسله ډېپت او ۵ مېګاپکسله مکرو کامرې پکې شاملې دي. مخکينۍ برخه کې ۳۲ مېګاپکسله وړتيا لرونکې سېلفي کامره هم لري. دغه ځيرک موبايل به ۴۵۰۰ ملي امپيره وړتيا لرونکې بېټرۍ ولري چې له ۲۵ واټ چټک چارج څخه به هم ملاتړ وکړي. د ګلکسي اې۷۲ په اړه ډېر معلومات نه دي ورکړل شوي، خو ويل کېږي چې ٦,۷ انچه ستره مخپاڼه به ولري.

